# قرباني

د خوږ مصطفٰے ﷺ سُنَّت دي

**21 May 2026**



(For Islamic Brothers)

هفته وار د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بيان

پهٔ 21 مئي، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاریخ: 3 ذو الحج شریف، کال 1447ھ) د پاکستان
پهٔ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# قُرباني د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم سُنَّت دي

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د عظمت والا 10 شپې
- د قُربانۍ پهٔ فضیلتونو باندې حدیثونه
- د قُربانۍ یو څو آداب
- غوښه خوړل د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ؕ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللّٰہ    وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللّٰہ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ    وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللّٰہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د نبي اَکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د جُمعې پهٔ شپه او د جُمعې پهٔ ورځ (يعني د زيارت د ورځې د نمر پريوتو نه تر د جُمعې د ورځې د نمر پريوتو پورې) پهٔ ما باندې ډير درودِ پاک لولئ! څوک چې داسې کوي د قيامت پهٔ ورځ به زهٔ د هغهٔ ګواهي ورکووم او شفاعت به يې هم کووم۔ (1)

تمنّا ہے فرمایئے روزِ محشر | یہ تیری رہائی کی چِٹّھی ملی ہے
شفاعت کرے حشر میں جو رضؔا کی | سوا تیرے کس کو یہ قُدرت ملی ہے (2)

وضاحت: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! خواهش مې دا دے چې کله د قيامت پهٔ ورځ حاضري وي نو تاسو وفرمايئ چې اے رضاؔ! ستا د پاره د دوزخ نه دا د ازادی چیتہی میلاؤ

---

1... شُعَبُ الۡاِیۡمَان، باب فی الصلوات، جلد:3، صفحه:111، حدیث:3033۔

2... حدائقِ بخشش، صفحه:188 ملتقطًا۔

شوې ده- اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د رضا شفاعت کول هم ستاسو کار دے، ستاسو نه علاوه چا له هم دا طاقت نۀ دے ورکړے شوے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

پۀ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نیتونو دے- [1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ◈ د **الله** پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ◈ پۀ اَدب به کښینم ◈ ښۀ پۀ توجُّه به بیان اورم ◈ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عظمت والا 10 شپې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! **الله** پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ الْفَجْرِ ۙ﴿۱﴾ وَ لَیَالٍ عَشْرٍ ۙ﴿۲﴾ (پاره:30، سورۂ فجر:21) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: د سحر قسم- او د لسو شپو- |

[1] … بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

د يو قول مطابق په دې آيت كښې د ذِكر شوؤ 10 شپو نه د ذو الـحِج ورومبۍ 10 شپې مراد دي-[1] پته ولګيده! چې د ذو الـحِج ورومبۍ 10 شپې ډيرې د فضيلت والا دي چې **الله** پاک په دې قسم ارشاد فرمائيلے دے-

## په عَشرَهٔ ذِي الـحِج كښې د عبادت فضيلت

◈ د حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہما نه روايت دے څوک چې سلطان المفسرين دے، د **الله** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي، مكي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَا مِنْ اَيَّامٍ اَلْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهَا اَحَبُّ اِلَى اللّٰهِ مِنْ هٰذِهِ الْاَيَّامِ يعنې يوه ورځ هم داسې نشته په كومه كښې چې نيک عمل كول د **الله** پاک په نزد، د دې (يعنې د ذو الـحِج د ورومبو) 10 ورځو نه زيات محبوب وي - [2]

يعنې كه په عامو ورځو كښې نيكي وكړے شي نو هغه هم د **الله** پاک ډيره خوښه وي، په عامو ورځو كښې نيكي كول هم ډيره د فضيلت خبره ده خو د عامو ورځو په نسبت د عشرهٔ ذِي الـحج (يعنې د ذُو الـحج په ورومبو 10 ورځو كښې) نيكي كول **الله** پاک ته ډير محبوب عمل دے-

◈ په يو روايت كښې دي: وَالْعَمَلُ فِيهِنَّ يُضَاعَفُ سَبْعَمِائَةِ ضِعْفٍ په دې 10 ورځو كښې د نيكۍ ثواب 700 چنده زياتولے شي-[3]

---

[1]…تفسير قرطبی، پاره:30، سورهٔ فجر، زير آيت:2، جز:20، جلد:10، صفحه:24۔

[2]…ابو داؤد، كتاب الصوم، باب فی صوم العشر، صفحه:390، حديث:2438۔

[3]… شعب الايمان، باب فی الصيام، جلد:3، صفحه:356، حديث:3757۔

◈ د ترمذي شريف پهٔ روايت كښې دي: مكي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَامِنْ أَيَّامٍ أَحَبُّ إِلَى اللهِ أَنْ يُتَعَبَّدَ لَهُ فِيهَا مِنْ عَشْرِ ذِي الحِجَّةِ د عبادت پهٔ ورځو كښې **الله** پاک ته ډيرې محبوبې ورځې د ذِي الـحِج ورمبیٔ لس ورځې دي يَعْدِلُ صِيَامُ كُلِّ يَوْمٍ مِّنْهَا بِصِيَامِ سَنَةٍ پهٔ دې ورځو كښې يوه ورځ روژه د يو كال د روژو برابر ده وَقِيَامُ كُلِّ لَيْلَةٍ مِّنْهَا بِقِيَامِ لَيْلَةِ القَدْرِ او د دې ورځو د هرې شپې قيام (يعنې ويخ پاتې كيدل او عبادت كول) د شبِ قدر د قيام برابر دے۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! دا 10 ورځې ګويا د نيكو سپرلے دے، مونږ له پكار دي چې مونږ دا ورځې غنيمت وګڼو، ښې ډيرې نيكۍ اوكړو، فرض نـمونځونه خو ضرور كول دي ◈ نفلونه هم اوكړو ◈ نفل عبادت اوكړو ◈ تِلاوت اوكړو ◈ ذِكرُ الله اوكړو بلكې حق خو دا دے چې د شپې ويخ پاتې شو او عبادت اوكړو ولې چې د شپې عبادت ډير خوښ عبادت دے۔

## خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به نفل روژې نيولې

د مسلمانانو مور جانه حضرت حفصه رَضِيَ اللهُ عَنْهافرمائي: رسولِ اكرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمبه عشرهٔ ذِي الـحِج كښې په پابندیٔ سره نفل روژې نيولې۔ (2)

ياد ساتئ چې د عَشَرَهٔ ذِي الـحِج د روژو مطلب دے: د ذِي الـحِج د ورومبو 9 ورځو

[1] ... ترمذی، کتاب الصوم، باب ما جاء فی العمل، صفحه:211، حدیث:758۔

[2] ... صحیح ابن حبان، کتاب التاریخ، صفحه:1703، حدیث:6422۔

روژې،ولې چې پهٔ 10 ذُو الـحِج (يعنې د لوئې اختر) د ورځې روژه نيول جائزه نهٔ ده-[1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** کاش چې مونږ هم د نيکو حرص کوونکي جوړ شو، زمونږ خوږ آقا، رسولِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د عشرهٔ ذِي الـحِج روژې نيولې، کاش چې مونږ هم د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې ادا د اِختيارولو د پاره نفل روژې اونيسو، نـمونځونه ادا کړو، عبادت اوکړو چې دغه کټه په قبر او حشر کښې پکار راځي، باقي هر څهٔ خو دلته پاتې کيدل دي، د دې نيکو حِرص زياتول پکار دي، د عشرهٔ ذِي الـحِج يوه نيکي 700 چنده زياتولے شي،[2] ځکه د دې موقعې نه فائده واخلئ او ښه ډيرې نيکئ اوکړئ- **الله** پاک دې مونږ ټولو ته د خپلې رضا والا کارونو کښې د مَصرُوفه کيدو توفيق رانصيب کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

کچھ نیکیاں کما لے، جلد آخرت بنا لے | کوئی نہیں بھروسا اے بھائی! زندگی کا[3]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله اوښان ذبح کړل

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د هجرت د لسم کال واقعه ده، پهٔ دې کال څه کم يا زيات يو لاکھ24 زره صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ

---

[1] … مسند ابی یعلی، جلد:3، صفحہ:21، حدیث:2915۔

[2] … شعب الایمان، باب فی الصیام، جلد:3، صفحہ:356، حدیث:3757۔

[3] … وسائل بخشش، صفحہ:178۔

عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د حج د فريضې د ادا کولو سعادت حاصل کړو- دې مبارک حج ته **حَجَّةُ الْوَدَاع** وئيلے کيږي-(1)

سُبْحٰنَ الله! د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم د دې بنه قِسمت نه قربان شم--!! د دې عظيمو خلقو خومره ښه قِسمت وو ◈ د کعبې طواف د کعبې د کعبې يعني د محبوبِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره--!! ◈ د عرفات د ميدان قيام ◈ پهٔ مُزدَلِفَه کښې شپه تيرول ◈ د مِنیٰ قُرباني--!! هٰغه مبارک کارونه د کومو د پاره چې د عاشقانو زړونه کړيږي، ◈ د زړهٔ والا چې د کومو سعادتونو د پاره د شپې پاخي او اوښکې توئيوي، صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم هم دا مبارک کارونه د نبيانو د سردار، د مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د ادا کولو سعادت حاصلولو- کاش چې د دوئي پهٔ وسيله زمونږه هم بخت رابيدر شي! کاش چې مدينے منورې ته تلل مو نصيب شي، اے کاش چې چرته بخت رابيدار شي، که پهٔ ويخه نهٔ وي نو کم از کم هُم پهٔ خوب کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شي-

| | |
|---|---|
| يارَبّ ! پھر اَوج پر يہ ہمارا نصيب ہو | سُوئے مدينہ پھر ہميں جانا نصيب ہو |
| مکّہ بھی ہو نصيب، مدينہ نصيب ہو | دشتِ عرب نصيب ہو، صحرا نصيب ہو |
| الله! ديدِ گنبدِ خضرا نصيب ہو | يارَبّ! رسولِ پاک کا جلوہ نصيب ہو(2) |

---

1...مدارج النبوة، قسم سوم...الخ، ذکر حجة الوداع، جلد:2، صفحه:384بتقدم و تأخر-

2...وسائلِ بخشش، صفحه:89 ملتقطًا-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حَجَّةُ الوَدَاع پهٔ موقع باندې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ مِنیٰ شريف کښې 100 اوښان قُرباني کړل- پهٔ هغې کښې يې 63 پهٔ خپلو لاسونو مبارکو باندې نَحر [يعني ذبح] کړل، باقي 37 د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ حُکم باندې د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت مولیٰ علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د نَحر کولو سعادت حاصل کړو-[1]

د اوښ د حلق په اخِره کښې موجود رګونه پهٔ ولاړه ولاړه پهٔ نيزه وهلو سره پريکولے شي، دې ته نَحر کول وائي-[2]

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله اوښان نَحر کول، دا منظر ډير اِيمان تازه کوونکے وو- روايت دے چې 5، 5 اوښان به د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خِدمت کښې پيش کولے کيدل، کله چې به دا اوښان د هغوئي پهٔ دربار کښې حاضريدل نو ټولو اوښانو به يو بل له ديکې ورکولې او د يو بل نه به مخکښې کيدل او خپل ځان به يې دربارِ رسالت ته پيش کولو د پاره د دې چې د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ لاسونو باندې د ټولو نه وړومبے د هغهٔ قُربانيدل نصيب شي- [3]

سُبْحٰنَ الله! څومره څانګړے شان دے---!! دلته چې کله څاروے د قُربانئ د پاره راوستے کيږي نو هغه د ځان خلاصولو او د تښتيدو کوشش کوي، ډير ځل غټ څاروي

---

[1]...مدارج النبوة، قسم سوم...الخ، ذکر حجة الوداع، جلد:2، صفحه:397۔

[2]...بهارِ شريعت، جلد:3، صفحه:312، حصّه:15۔

[3]... ابو داؤد، کتاب المناسک، باب فى الهدى اذا...الخ، صفحه:286، حديث:1765 خلاصةً۔

ځان خلاص کړي او تښتي هم او ډير نقصان کوي، خاص طور د اوښ نَحر کول خو ډير د مهارت کار دے، تجربه کار قصاب هغه نَحر کولے شي خو زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نا اشنا شان نه زر ځله قُربان شم---!! يقيناً هر چا ته خپل ځان خوږ وي خو دا کمال دے د آمنې د سترګو د تور، د زړۀ د ټکور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے چې ښاروي هم د هغوئي پۀ کرم والا لاسونو قُرباني کيدل د ژوند نه بهتر ګڼي-

| | |
|---|---|
| تماشا کر رہے ہیں مرنے والے عیدِ قرباں میں | ہر اِک کی آرزو ہے پہلے مجھ کو ذَبح فرمائیں(1) |

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د عشق والؤ اندازناشنا وي، دلته د رښتوني عاشقِ رسول، شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه جذبې ته وګورئ! ليکلي يې دي:

| | |
|---|---|
| کاش! دستِ آقا سے نَحْر ہو گیا ہوتا | اُونٹ بن گیا ہو تا اور عیدِ قرباں میں |
| مصطفےٰ کے قدموں سے میں لپٹ گیاہوتا( 2 ) | کاش! ایسا ہو جاتا خاک بن کے طیبہ کی |

اللّٰه کريم دې مونږ ټولو ته د عشقِ رسول داسې د کمال نه ډک نعمت رانصيب کړي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... ذوقِ نعت، صفحه:192۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:158 159 ملتقطًا۔

## د اِيماندارو اُمتونو مشترکه عِبادت

د 17 سيپارې، د سورۀ حج، پۀ آيت: 34 کښې **اللّٰه** پاک فرمائي:

وَ لِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ (پارہ:17، سورۂ حج:34)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او د هر اُمَّت د پاره مونږه يوه قُرباني مقرره کړه د دې د پاره چې هغوئي پۀ دې خبره باندې د **اللّٰه** نوم ياد کړي چې هغۀ دوئي ته د بے زبانه څاروو نه رزق ورکړو۔

د آيت معنیٰ دا ده چې مخکښې ځومره هم اِيماندار اُمتونه تير شوي دي، پۀ هغوئي کښې د هر اُمت د پاره **اللّٰه** پاک يوه قُرباني مقرره کړه د پاره د دې چې د څاروو د ذبح کولو پۀ وخت پۀ هغې باندې د **اللّٰه** پاک نوم واخلي۔ [1]

اے مسلماں! سُن یہ نکتہ درسِ قرآنی میں ہے | عظمتِ اسلام و مُسلِم صرف قربانی میں ہے

## قُرباني د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** قُرباني کول د ډير لوئي ثواب کار دے، قُرباني کول د **اللّٰه** پاک د رضا والا کار دے، قُرباني کول **اللّٰه** پاک ته د نزدې کيدو سبب دے، قُرباني کول د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام سُنَّت دي، قُرباني کول د انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلَام سُنَّت دي او قُرباني کول د سَيِّد الانبيا، محبوبِ خُدا، احمد مجتبیٰ، يعنې زمونږ د خوږ آقا، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ

[1]... صراط الجنان، پارہ:17، سورۂ حج، زیرِ آیت:34، جلد:6، صفحہ:443۔

عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بنکلي سُنَّت هم دي-

مَاشَآءَالله! زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قُربانۍ سره داسې محبت وو چې هر کال به يې قُرباني کوله- په ترمذي شريف کښې روايت دے، حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهما فرمائي: خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 10 کاله په مدينه مُنَوَّره کښې وو، هغوئي به هر کال قُرباني کوله-[1]

بلکې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د قُربانۍ کولو** سلسله د هغوئي د ظاهري وِصال نه پس هم جاري وه، حضرت مولیٰ علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته نصيحت فرمائيلے وو چې زۀ هر کال د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اړخه 2 ګډان قُرباني کووم، نو زۀ هر کال د هغوئي په وصيت باندې عمل کووم-[2]

## د اُمت له طرفه به يې قُرباني کوله

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د قُربانۍ په باره کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رحمت نه يوه ډکه ادا واورئ! او خوشحاله شئ! د حضرت ابو رافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، د رسولانو سردار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به 2 خاربۀ، د ښکرو والا ګډان اخستل، د اختر په ورځ به يې چې کله د اختر نمونځ ادا کړو، د خطبې اِرشاد فرمائيلو نه پس به د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې يو ګډ حاضر کړے

---

1 …ترمذی، کتاب الاضاحی، باب الدليل علی ان الاضحية سنة، صفحه:386، حديث:1507۔

2 …ترمذی، کتاب الاضاحی، باب ماجاء فی الاضحية عن الميت، صفحه:383، حديث:1495۔

شو، رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به پهٔ خپلو لاسونو هغه ذبح کولو او وئيل به يې:

اَللّٰهُمَّ هَذَا عَنْ اُمَّتِی جَمِیعًا مِمَّنْ شَهِدَ لَكَ بِالتَّوْحِیدِ وَشَهِدَ لِی بِالْبَلَاغِ

**ترجمه:** اے الله پاکه! دا قُرباني زما د هر هغه اُمتي له طرفه کوم چې ستا د يو کيدو او زما د دِين د رسَوَلو ګواهي ورکوي۔

بيا به بَل ګډ حاضر کړے شو، هغه به يې پهٔ خپل مبارک لاس باندې ذبح کولو او فرمائيل به يې:

اَللّٰهُمَّ هَذَا عَنْ مُحَمَّدٍ وَآلِ بَيْتِهِ

**ترجمه:** اے الله پاکه! دا قُرباني د مُحَمَّد او د آلِ مُحَمَّد د طرف نه ده۔

بيا به د دې دواړو ګډانو غوښه پهٔ غريبانو او مسکينانو تقسيمولے شوه، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به يځپله او د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کور والؤ به هم د هغې خوړله۔(1)

## دا ناز، دا انداز زمونږه نۀ وي

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُمت سره د محبت انداز مبارک ته وګورئ چې څومره نا اشنا دے، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به باقاعده پهٔ بندوبست سره هر کال 2 ښکلي، ښائسته ګډان اخستل او د اُمت سره محبت ته يې وګورئ چې وړومبۍ قُرباني به يې د اُمت پهٔ نوم کوله، بيا به يې د خپل اړخ

[1] …مسند احمد، جلد:11، صفحه:220، حديث:27952

نه کوله- د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورور مولانا حَسَن رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه څومره ښه وئيلي دي:

اس شان کے ہم نے کیا کسی نے دیکھے | نہیں زِینہار آقا
ایسا تو کہیں سُنَا نہ دیکھا | بندوں کا اُٹھائیں بار آقا
جن کی کوئی بات تک نہ پُوچھے | ان پر تمہیں آئے پیار آقا[1]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! واقعي چې څومره ښتيا خبره ده---!! مونږ څوک يو؟ څۀ يو؟ زمونږ د بے کارو اهميت څۀ دے؟ آه! مونږ بے کاره خلق---!! خو نصيب ته مو وګورئ چې محبوبِ خُدا، امامُ الانبيا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ◈ هٰغه د عظمت والا آقا د چا پۀ برکت چې دا دُنيا جوړه شوه ◈ هٰغه د عظمت والا آقا د چا نازونه چې رَبِّ کائنات وړي ◈ هٰغه د عظمت والا آقا د چا پۀ دَر باندې چې فرښتے د حاضريدو د پاره پۀ قطار کښې ولاړې وي ◈ هٰغه د عظمت والا آقا د چا ښپې چې حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام ښکلوي ◈ الله! الله! هٰغه د عظمت او شان والا خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ګنهګاران يادوي، باقاعده پۀ بندوبست سره زمونږ پۀ نوم باندې هر کال قُرباني فرمائي:

یہ ناز یہ انداز ہمارے نہیں ہوتے | جھولی میں اگر ٹکڑے تمہارے نہیں ہوتے
ملتی نہ اگر بھیک حُضُور آپ کے در سے | اس شان سے منگتوں کے گزارے نہیں ہوتے

---

[1] ...ذوقِ نعت، صفحه:65 ملتقطاً۔

# یاد اُن کی اپنی عادت کیجیے!

## (یاد د هغوئي خپل عادت جوړ کړئ!)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو ټخپله د خپل زړهٔ نه پوښتنه اوکړئ! چې کوم خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زمونږ دومره خیال ساتلو، د هٔغه خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یاد مونږ له څنګه نمانځل پکار دي---؟ ◈ زمونږ حق جوړیږي چې پهٔ ګرځیدو، پهٔ ناسته پهٔ ولاړه، پهٔ ویخه پهٔ اودو د خپل خوږ محبوب آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذِکر پهٔ شونډو باندې وساتو ◈ د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ حُضُور کښې د درودونو نذرانې پیش کوو ◈ د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت اِختیار کړو ◈ مخ د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ سُنَّت (یعنې ږیره مبارکه) باندې ښکلے کړو ◈ پهٔ سَر باندې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت یعنې د عمامې شریفې تاج کیږدو ◈ چې جامې مو هم د سُنَّتو نه ډکې وي ◈ او خاص طور چې چا له **الله** پاک توفیق ورکړے وي، **الله** پاک چا له وَس ورکړے وي نو هر کال د محبوب آقا، د ځان نه د خوږ آقا، خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ایصالِ ثواب د پاره د بیلې قُربانۍ کولو سعادت حاصل کړو۔

## یوه اهمه مسئله

دلته د یوې خبرې وضاحت کووم: پهٔ چا باندې چې قُرباني واجِب وي، د هغوئي د پاره لازمي دي چې هم د خپل ځان د طرف نه قُرباني کوي،[1] د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني

[1] ...فتاوٰی امجدیه، جلد:3، صفحه:315۔

مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره دې بیل خاروے واخلي یا دې پهٔ غټ خاروي کښې حصه شامله کړي- که دومره وَس نهٔ وي او صرف خپله واجِب قُرباني کولے شي نو قُرباني دې د خپل اړخ نه یعنې هم د خپل واجب ادا کولو د پاره اوکړي! او د هغې ثواب دې دربارِ رسالت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته نذرانه کړي!

## اِیصالِ ثواب سُنَّت دے

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** محبوبِ ذِیشان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هر کال د اُمت د طرف نه قُرباني کوله، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې ادا نه دا هم معلومه شوه چې اِیصالِ ثواب جائز نهٔ بلکې سُنَّت دے او دا هم معلومه شوه چې اِیصالِ ثواب صرف د نارینؤ د پاره نهٔ، د ژوندو د پاره نهٔ بلکې د راتلونکو خلقو د پاره هم کیدے شي-

**پهٔ روایتونو کښې دي:** سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د مړي د پاره د اِیصالِ ثواب ترغیب ورکولو- (1) یوه صحابیه رَضِیَ اللہُ عَنْہا کومې ته چې به بنتِ عَفِیف وئیلے کیدله، هغه فرمائي: مونږ چې کله دربارِ رسالت ته حاضرې شو نو نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زمونږ نه د دې خبرې بیعت واخستو چې مونږ به د خپلو وفات شوو د پاره فاتحه لولو- (2)

سُبْحٰنَ اللہ! د دې نه اندازه ولګوئ چې د دواړو جهانو رحمت، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللہُ

---

1… کشف الغمه، کتاب الجنائز، فرع فی انتفاع المیت بالقران...الخ، جز:1، صفحه:207ماخوذاً۔

2… الاحاد والمثانی لابن ابی عاصم، جلد:6، صفحه:94، حدیث:3307۔

عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به اِيصالِ ثواب له څومره اهميت ورکولو- نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم نه پهٔ دې خبره باندې باقاعده بيعت واخستو چې د مړي د پاره به د سُورهٔ فاتحه تِلاوت کوي-

## آيا وفات شوو ته ثواب رسيږي؟

صحابیِ رسول حضرت اَنس بن مالِک رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زما مور او پلار دې پهٔ تاسو قُربان شي---!! مونږ د خپلو وفات شوو د پاره صدقې کوو، د هغوئي د طرف نه حجونه کوو، آيا دا هغوئي ته رسي؟ وه يـې فرمائيل: آؤ! **دا هغوئي ته رسي او هغوئي پهٔ دې (اِيصالِ ثواب) باندې داسې خوشحاليږي، لکه څنګه چې تاسو (ژوندي خلق) پهٔ تحفه ميلاؤيدو باندې خوشحاليږئ** (1)

## د وفات شوو د پاره هم قُرباني کوئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د چا مور او پلار دواړه يا يو چې د دې دُنيا نه رُخصت شوے وي، هغوئي له پکار دي چې د خپل مور او پلار د اِيصالِ ثواب د پاره هم بيل د قُربانئ سعادت حاصلوي- يو ځل يو صحابي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حاضر شو، عرض يـې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ما به د خپل مور پلار سره د هغوئي پهٔ ژوندانهٔ ښه سلوک کولو، اوس هغوئي وفات شوي دي، اوس د هغوئي سره د ښه سلوک څهٔ طريقه ده؟ نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل:

---

[1]... عمدة القاری، کتاب الوضو، جلد:2، صفحه:599، زيرِ حديث:216۔

اِنَّ مِنَ الْبِرِّ بَعْدَ الْمَوْتِ اَنْ تُصَلِّيَ لَهُمَا مَعَ صَلٰوتِكَ وَ تَصُوْمَ لَهُمَا مَعَ صِيَامِكَ

**ترجمه:** بے شکه د وفات نه پس د مور پلار سره ښه سلوک دا دے چې ته د خپل نـمونځ سره د هغوئي د پاره هم نـمونځ اوکړې، د خپلې روژې سره د هغوئي د پاره هم روژه اونيسې! (1)

د دې حديثِ پاک 2 معنې کيدے شي: (1): کله چې هم تاسو نمونځ کوئ! روژه نيسئ نو د دې ثواب خپلو مور او پلار ته بخښئ! (2): دويمه معنٰی دا کيدے شي چې د هغوئي له طرفه د هغوئي د نمونځونو او روژو فديه ورکړئ چې دا هم د هغوئي د وفات نه پس د هغوئي سره د ښيګړې يوه صورت دے۔

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې صرف دريمه، لسمه، څلويښتمه وغيره نۀ بلکې د مور او پلار پۀ حقونو کښې دا هم دي چې اولاد پۀ خپله هره يوه نيکۍ کښې هغوئي هم شامل کړي، چې کومه نيکي هم کوي، د هغې ثواب دې مور او پلار ته بخښي او نفلي نيکۍ دې کوي او د هغې ثواب دې هغوئي ته بخښي۔ لهذا که الله پاک وَس درکړے وي نو د مور او پلار د اِيصالِ ثواب د پاره د قُربانۍ بيل ښاروے واخلئ! که دومره وَس مو نۀ وي نو خپل واجب ادا کړئ او د هغې ثواب خپلو وفات شوو مور او پلار ته اوبخښئ!

## خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ښاروي تقسيمول

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د قُربانۍ پۀ باره کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يوه ادا دا هم ده چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پۀ صحابۀ کرامو

[1]... عمدة القاری، کتاب الوضوء، جلد:2، صفحه:599598، زيرِ حديث:216۔

رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم باندې څاروي تقسیمول- د حضرت عُقبه بن عامِر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روایت دے، فرمائي: یو ځل محبوبِ ذِیشان صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته چیلۍ راعطا کړې او وه یـې فرمائیل چې دا په صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم باندې تقسیمې کړه--!! نو ما ټولې چیلۍ تقسیمې کړې، یوه چیلۍ پاتې شوه، ما واپس راوسته او حاضر شوم، نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: دا ته واخله! او خپله قُرباني اوکړه--!!(1)

سُبۡحٰنَ اللہ! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! وګورئ چې زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څومره سخي دے--!! کاش چې زمونږ هم دا سعادت نصیب شي، چا له چې رَبِّ کریم وَس ورکړے دے، هغوئي له پکار دي چې څومره کیدے شي چیلۍ، غټ څاروي واخلي او غریبانو له یـې ورکړي بلکې امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُھُمُ الۡعَالِیَہ خو فرمائي چې غریبانو له د څاروي د کټ کولو (یعنې د قصابۍ) فیس هم ورکول پکار دي- اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم! د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ادا د ادا کولو او د غریبانو د زړهٔ ساتنې ثواب به نصیب کیږي-

## د قُربانۍ په فضیلتونو باندې حدیثونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! قُرباني کول د الله کریم، رحمان او رحیم حُکم دے، قُرباني کول د رحمتونو والا نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي، ځکه د **الله** پاک د رضا د پاره، د ذوق او شوق سره، د زړهٔ د خوشحالۍ نه قُرباني کوئ! ◈ د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عاِئشه صِدِّیقه طیبه، طاهره رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا فرمائي: سرکار، عالي وقار، مکي مَدَني

---

1...بخاری، کتاب الاضاحی، باب فی اضحیۃ النبی صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم ...الخ، صفحه:1415، حدیث:5555۔

تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د نَحر (یعني د لسم ذو الـحِج) په ورځ د **الله** پاک په نزد د ټولو نه خوښ عمل وینه توئیول (یعني ښاروے ذبح کول) دي، بے شکه د قُربانۍ ښاروے به د قیامت په ورځ د ښکرو، ویښتو او ښنګرو(سُمانو) سره راځي او بے شکه د قُربانۍ وینه په زمکه باندې د پریوتو نه مخکښې د **الله** پاک په نزد د قبولیت مقام ته رَسي، لهذا د زړه په خوشحالۍ سره قُرباني کوئ! [1] ◈ د حضرت زَید بِن اَرقم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے، د مدینے سرکار، د زړونو قرار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: ستاسو د پاره د قُربانۍ د ښاروي د هر ویښتهٔ په بدل کښې یوه نیکي ده- [2] ◈ د اِمام حَسَن مجتبیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے، د مکے سُلطان، د مدینے جانان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوک چې د زړه په خوشحالۍ، د ثواب د پاره قُرباني اوکړي، د هغهٔ قُرباني به د هغهٔ او د دوزخ ترمینځه حجاب [یعني رکاوټ] جوړ شي [3] ◈ مالکِ جنّت، قاسِمِ نِعمَت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: بے شکه د **الله** پاک په دربار کښې د ټولو نه خوښ کار هٰغه قُرباني ده کومه چې په قیمت کښې اعلیٰ او ښه ځَربه وي- [4] ◈ په یو روایت کښې یـې فرمائیلي دي: د زوړ ښاروي په ځائے د ځوان ښاروي قُرباني د **الله** پاک په دربار کښې ډېره خوښه ده- [5]

---

[1] …ترمذی، کتاب الاضاحی، باب فی فضل الاضحیه، صفحه:383، حدیث:1493۔

[2] …ابن ماجه، کتاب الاضاحی، باب ثواب الاضحیه، صفحه:510، حدیث:3127۔

[3] …معجم کبیر، جلد:2، صفحه:213، حدیث:2670۔

[4] …مسند امام احمد، جلد:6، صفحه:375، حدیث:15893۔

[5] …سنن کبری بیهقی، کتاب:ضحایا، باب: یستحب ان یضحی، جلد:9، صفحه:507، حدیث:19092۔

| | |
|---|---|
| نشانی ہے وفا کی اور اِک نعمت ہے قربانی | خُدا کے دوست ابراہیم کی سُنّت ہے قربانی |
| مسلمانو! کبھی قربانی سے پیچھے نہیں ہٹنا | وقارِ دِین ہے، اسلام کی شوکت ہے قربانی |

**الله** پاک دې مونږ ته د زړهٔ په خوشحالۍ سره د قُربانۍ کولو توفيق راعطا کړي، څوک چې د قُربانۍ سعادت حاصلوي، **الله** پاک دې د هغوئ قُربانۍ قبولې کړي، څوک يـې چې نهٔ کوي، **الله** پاک دې هغوئ ته هم توفيق عطا کړي چې هغوئ هم د قُربانۍ سعادت حاصل کړي- اٰمِيۡن بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پهٔ اخره کښې د قُربانۍ پهٔ باره کښې يو څو آداب عرض کوو-

## د قُربانۍ يو څو آداب

**الله** پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| لَنۡ یَّنَالَ اللّٰہَ لُحُوۡمُہَا وَلَا دِمَآؤُہَا وَلٰکِنۡ یَّنَالُہُ التَّقۡوٰی مِنۡکُمۡ (پاره:17، سورهٔ حج:37) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د **الله** بارګاه ته بالکل نهٔ د دوئ غوښې رسي او نهٔ د دوئ وينې، البته ستاسو له طرفه پرهيزګاري د هغهٔ بارګاه ته رسي- |

پهٔ تفسير صراط الـجنان کښې د دې آيت لاندې دي:چې د جهالت پهٔ زمانه کښې به غير مسلمو د خپلو قربانو پهٔ وينه باندې د کعبې شريفې ديوالونه ګنده کول او ګڼله به يـې چې د داسې کولو سره به زمونږ د **الله** پاک قُرب نصيب شي- بيا چې کله د اِسلام نُور

وځليدو، صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡھُم حج اوکړو، قُربانۍ يـې پيش کړې نو د هغوئي د تعليم د پاره دا آيت مبارک نازل شو او ووئيلے شو چې د **اللّٰه** پاک دربار ته نهٔ خو د قُربانۍ غوښه رسي او نهٔ وينه د **اللّٰه** پاک دربار ته رسي، او ستاسو د طرف نه تقوىٰ، پرهيزګاري د **اللّٰه** پاک دربار ته رسي او قُربانۍ کوونکـے صرف پهٔ ښه نيت، د اِخلاص او تقوىٰ پهٔ شرطونو باندې پهٔ عمل کولو سره **اللّٰه** پاک راضي کولے شي۔ (1)

جانتا ہے بارگاہِ حق کے آئین و اُصول؟ | دِل کے ٹکڑوں کی یہاں پر نذر ہوتی ہے قبول

شيخ اَبُو طالِب مکي رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه چې د دې آيت مبارک کوم وضاحت فرمائيلے دے، د هغې مطابق که د هغې مفهوم لږ پهٔ وضاحت سره بيان کړم نو مطلب به دا وي چې **اللّٰه** پاک فرمائي: اے زما بندګانو! ◈ تاسو د کور نه راوتلې نو خلقو تاسو ته کتل ◈ تاسو د ځاروو منډهې ته لاړې نو خلقو تاسو ته کتل ◈ تاسو ځاروے واخستو نو خلقو تاسو ته کتل ◈ تاسو ځاروے کور ته راوستو نو خلقو تاسو ته کتل ◈ تاسو د ځاروي خيال وساتو نو خلقو تاسو ته کتل ◈ تاسو ځاروے زما پهٔ نوم باندې ذبح کړو نو خلقو تاسو ته کتل ◈ تاسو د ځاروي غوښه پخپله هم پخه کړه او وه مو خوړله او خلقو له مو هم ورکړه نو خلقو تاسو ته کتل، غرض دا چې د ځاروي د اخستو نه واخله، د هغه د قُربانۍ او غوښې خوړلو او تقسيمولو پورې ستاسو ټول اعمال د خلقو مخې ته وو خو پهٔ دې ټول وخت کښې هم يو څيز دے کوم چې زما او ستاسو ترمينځه وو او هغه دے ستاسو د زړهٔ

---

1 ...تفسیر نسفی، پارہ:17، سورۂ حج، زیرِ آیت:37، جلد:2، صفحہ:442۔

حالت، بس ستاسو د عمل د قبليدو فيصله به د دې زړۀ پۀ حالت باندې کولے شي- دا به کتلے شي چې ستاسو پۀ زړۀ کښې تقویٰ وه او که نۀ؟ د **الله** پاک پۀ نزد چې کوم څيز قبول دے هغه هم دغه د زړۀ تقویٰ ده- (1)

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** اوس چې مونږ لږ غور اوکړو ◈ کله چې مونږ د څاروي د اخستو د پاره تلي وو نو پۀ زړۀ کښې مو نيت څۀ وو؟ آيا د څاروي د اخستو پۀ وخت مو پۀ زړۀ کښې دا نيت وو چې خلق به څۀ وائي؟ يا دا جذبه وه چې د رَب پۀ نوم باندې به د ښه نه ښه څاروے قُرباني کووم؟ ◈ کله چې مو څاروے محلې ته راوستے وو، خلقو يـې پۀ ليدلو واه واه کړي وو نو هٰغه وخت د زړۀ حالت څۀ وو؟ ◈ کله چې دوستانو او ګاؤنډيانو پوښتنه کړې وه چې څاروے دې پۀ څو واخستو نو هٰغه وخت د زړۀ حالت څۀ وو؟ ◈ کله چې مو د نورو خلقو څاروي وليدل او د خپل او د نورو د څاروي موازنه مو کوله نو هٰغه وخت مو د زړۀ حالت څۀ وو؟ غرض دا چې زمونږ پۀ قُربانۍ کښې غوښه هغه ده کومه چې به مونږه خورو يا به يـې پۀ خلقو تقسيموو، وينه به خاوره وخښي، څرمن به يوې مدرسې ته پيش کړے شي، يو څيز به باقي پاتې کيږي ◈ زمونږ د زړۀ اِخلاص ◈ زمونږ د زړۀ تقویٰ ◈ زمونږ پۀ زړۀ کښې موجوده د تابعدارۍ جذبه ◈ زمونږ پۀ زړۀ کښې موجود د رَبّ محبت --!! که دا مقدس حالتونه موجود دي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! قُرباني قبوله ده، که دا نشته ◈ د اِخلاص پۀ ځائے بل ته ښودل دي ◈ د تقویٰ پۀ ځائے د غوښې حاصلول مقصد دے ◈ د رَبّ د محبت پۀ ځائے د خپلو سخاوتونو اِظهار

---

[1]... علم القلوب، باب حکم النية فى الاعمال، الاية الاولیٰ فمن ذلک قوله جل ثناؤ...الخ، صفحه:166 مفصلاً-

مقصد دے نو بیا معامله ګرانیدے شي۔

## قُرباني پهٔ اِخلاص سره کوئ!

خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې د زړهٔ پهٔ خوشحالئ او خالِص د الله پاک د رضا د پاره قُرباني اوکړه، د هغهٔ قُرباني به د هغه د پاره د دوزخ نه حجاب [یعني رکاوټ] جوړ شي۔[1]

معلومه شوه چې د قُربانئ کولو پهٔ وخت پهٔ زړهٔ کښې اِخلاص هم ساتل دي، صرف او صرف چې د الله پاک رضا ته نظر کوو او قُرباني کوو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! برکتونه به مو نصیب کیږي۔

## د حضرت اِسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام یو مبارک حالت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** کله چې حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام خپل شهزاده حضرت اِسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام مِنیٰ ته بوتللو، هغوئي ته یــې خپل خوب بیان کړو، اِرشاد یــې وفرمائیلو:

| | |
|---|---|
| يٰبُنَيَّ اِنِّيْۤ اَرٰى فِي الْمَنَامِ اَنِّيْۤ اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَا ذَا تَرٰى ؕ (پاره:23، سورهٔ صٰفٰت:102) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے زما ځویه! ما پهٔ خوب کښې ولیدل چې زهٔ تا ذبح کووم- اوس تهٔ وګوره ستا څهٔ رائے ده؟ |

**پهٔ کتابونو کښې لیکلي دي:** کله چې حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام دا فرمائیل نو هُغه وخت د شهزاده مخ روښانه شو، وجود یــې پهٔ رپیدو شو- حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام پوښتنه اوکړه:

---

[1]...معجم کبیر، جلد:2، صفحه:213، حدیث:2670۔

ځويه! څۀ خبره ده؟ پۀ مخ باندې دا پرقا د څۀ ده؟ پۀ وجود دادرپرېے ولې دے؟ اوس د شهزاده جواب لړ واورئ! هغوئي عرض اوکړو: بابا جانه! زۀ چې قربان شم نو د خپل رَبّ پۀ حُضُور کښې به حاضر شم، د دې فاني دُنيا نه به جُدا شم او جَنَّت ته به ورسيږم، **اللّٰه** پاک زما پۀ باره کښې دا حُکم دې د پاره خو ورکړے دے چې هُغه رَبِّ کريم زما نه راضي دے، بے شکه د رَبّ پۀ نزد چې خومره نعمتونه تيار دي، هغه پۀ دې دُنيا او څۀ چې پۀ دُنيا کښې دي، د دې ټولو نه بهتر دي (بس هم د دې خوشحالۍ نه مې مخ پړقيدو)۔ (1)

| | |
|---|---|
| عیدِ قرباں جذبۂ ایثار کا اِظہار ہے | یہ اطاعت کا خلیلُ اللہ کی معیار ہے |
| ہے یہ تسلیم و رضا کی ایک لافانی مِثال | جان دینے کے لیے فرزند بھی تیار ہے |
| باپ کا حُسنِ عَمَل، بیٹے کا ذوقِ اِتّباع | اس مِثالی دَاستاں کا مرکزی کِردار ہے |

## د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام يو مبارک حالت

**پۀ روايتونو کښې دي:** کله چې حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ځوي د قُربانۍ د پاره سملولو، بيا د هغوئي د سر خوا ته کيناستو، چاړه يې د هغوئي پۀ مرۍ باندې کيښودله، بيا يې ووئيل: اے **اللّٰه** پاکه! د هميشه هميشه دپاره هم ستا حمد دے، تا ما ته پۀ بوډا توب کښې ځوي راعطا کړلو، بيا دې د هغۀ پۀ ذريعه دا ازميښت وفرمائيلو، فَاِنْ كَانَ هٰذَا رِضَالَكَ فَاُسَلِّمُ لِاَمْرِكَ بس چې ستا رضا پۀ دې کښې ده نو زۀ ستا د رضا د پاره ستا د حکم پۀ وړاندې

---

1...الرقة والبكاء، الذبيح عَلَيْهِ السَّلَام، صفحه:84 خلاصةً۔

سر ټيټووم۔ (1)

**پۀ کتابونو کښې ليکلي دي:** کله چې حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دا ووئيل نو فرښتے هم پۀ ژړا شوې او هغوئي د **اللّٰه** پاک پۀ دربار کښې عرض اوکړو: مولىٰ! دا ستا نبي دے، پۀ هغوئي کښې يو (ستا د رضا د پاره) پرمخې ملاست دے، بل (ستا د رضا د پاره) ذبح کولو ته تيار دے۔ بيا **اللّٰه** پاک د اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام پۀ فديه کښې جنتي ګډ راوليږلو۔ (2)

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د دې عظيمې قُربانۍ پۀ وخت د دې دواړو د اوچتو مرتبو د نبيانو پۀ حقيقت کښې د زړۀ حالت څۀ وو، د دې خو مونږ ته پته نۀ لګي، نۀ هغې ته رسيدے شو، البته! دا روايتونه د هغه حالتونو يوه نظاره راښائي۔ حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام چې کله قُرباني کوله او حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام چې کله د قُربانۍ د پاره تيار وو، د هغوئي دواړو پۀ نظر کښې دُنيا نۀ وه، خپله واه واه نۀ وه، خپل مقام، خپله مرتبه، خپل تعريف هيڅ مقصد نۀ وو، د هغوئي زړونه چې لړزيدل نو صرف د يو څيز د پاره، هغه دا چې **اللّٰه** پاک زمونږ نه راضي شي۔ معلومه شوه چې **د قُربانۍ چې کومه اصلي فلسفه** ( ***Basic philosophy***) **ده، هغه د اللّٰه پاک رضا ده۔** لهٰذا چې کله هم مونږ قُرباني کوو نو ◈ پۀ زړۀ کښې د اِخلاص جذبه پکار ده ◈ چې لِلّٰهيت وي ◈ زمونږ مقصد خپل تعريفونه نۀ وي ◈ نۀ واه واه وي ◈ نۀ بل ته ښودنه وي ◈ هلته چې د څاروي پۀ مرۍ باندې چاړه راښکلے کيږي او دلته مونږ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره لړزيږو ◈ هُم پۀ زړۀ زړۀ کښې

---

1... الرقة والبكاء لابن قدامه، الذبيح عَلَيْهِ السَّلَام، صفحه:85۔

2... الرقة والبكاء لابن قدامه، الذبيح عَلَيْهِ السَّلَام، صفحه:85۔

دعاګانې کوو چې اے **اللّٰه** پاکه! زما پهٔ وَس کښې چې څهٔ وو، ما اوکړل، اے **اللّٰه** پاکه! د خپل خلیل پهٔ وسیله زما نه راضي شې۔

| | |
|---|---|
| مولیٰ مجھ کو نیک بنا دے | اپنی اُلفت دِل میں بَسا دے |
| اپنی رِضا کا دیدے مژدہ | یااللہ! میری جَھولی بَھر دے (1) |

## اِخلاص د عمل روح دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اِخلاص د عمل روح دے۔ د قبولیت کُنجي دہ، **علمائے کرام فرمائي:** د اِخلاص نه بغیر عمل د بے ساہ وجود پهٔ شان دے، دا ګویا هغه ونه دہ، کومه چې میوه نهٔ نیسي۔ لهٰذا څنګه چې بے ساہ وجود د ښخولو جوګه وي، هم داسې د اِخلاص نه بغیر عمل هم د هیڅ کار نهٔ دے، لکه څنګه چې بغیر د میوې نه ونه د سوزولو دپاره پکار راځي، هم داسې رِیا (یعني بل ته د ښودنې) والا عبادت هم دوزخ ته د غورځیدو سبب دے۔ (2)

| | |
|---|---|
| عطا کر دے اخلاص کی مجھ کو نعمت | نہ نزدیک آئے ریا یاالٰہی! (3) |

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته د اِخلاص او د **اللّٰه** پاک د محبت ډکه ښه پهٔ شوق او ذوق سره قُرباني رانصیب کړي او زمونږه قُربانۍ دې پهٔ خپل دربار کښې قبولې او منظورې کړي۔

اٰمِیۡنۡ بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ

---

[1]… وسائلِ بخشش، صفحه:123121 ملتقطًا۔

[2]… علم القلوب، باب صفة الاخلاص وطبقات المخلصین بالقلب، صفحه:137۔

[3]… وسائلِ بخشش، صفحه:106 ملتقطًا۔

## د دعوتِ اسلامی د یوې شعبې

## تعارف: شعبه اجتماعي قرباني

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اسلامی د عاشقانِ رسول یو عظیم دیني او فلاحي تنظیم دے، د ډیرو شعبو په ذریعه د علمِ دین د ترقئ او د مسلمانانو د فلاح په کارونو کښې وړاندې وړاندې دے- په دې شعبو کښې یوه، **شعبه اجتماعي قرباني** هُم ده- د دې شعبې تر لاندې د ټول پاکستان تقریباً د هر ښار په مدني مرکز کښې د اجتماعي قربانیو اهتمام کولے شي- دا شعبه وړومبے د اجتماعي قربانۍ بکنګ کوي، بیا د دې شعبې ماهر او تجربه کار اسلامي وروڼه د ځاروو منډۍ ته لاړ شي او هلته د ځاروو اخیستل د شرعي اصولو مطابق کوي- د ځاروو ◈ واښه ◈ اوبه ◈ د هغوئي خیال ساتل ◈ د هغوئي د حفاظت انتظام ◈ په قصاب باندې ځاروي ذبح کول ◈ د هغې د ذبح کولو او غوښې وړلو وغیره مزدوري طے کول ◈ د شرعي ذبح نه پس د هر ځاروي جدا جدا برخې جوړول او د شرعي اصولو مطابق حصّه دارو ته غوښه سپارل ◈ او د اجتماعي قربانۍ نه پاتې شوے رقم حصّه دارو ته رسَوَل وغیره، دا ټول کارونه د دې شعبې په ذمه وارئ کښې شامل دي- او تاسو د دې شعبې په ذریعه د خپلې قربانۍ غوښه په غریبانو کښې هُم تقسیمولے شئ-

اللّٰه پاک دې دعوتِ اسلامی ته نورې ترقۍ عطا کړي- اٰمِیْنْ بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## قُرباني کلیکشن موبائل ایپلي کیشن

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د عِلمِ دِین د فیضان عام کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي

***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: قُرباني کليکشن (***Qurbani Collection***) ◈ تاسو د دې ايپلي کيشن په مرسته د لوئي اختر د پاره د دعوتِ اِسلامي لاندې خپله قُرباني آن لائن بُک (***Online book***) کولے شئ ◈ قُرباني د شريعت او د سُنَّت مطابق د کولو د پاره د قُربانۍ په موضوع باندې د دار الافتاء اهلسُنَّت فتوې لوستلے شئ او د دار الافتاء اهلسُنَّت د مفتيانو صاحبانو سره په مشوره کولو دا خبره يقيني کولے شئ چې ستاسو قُرباني په سُنَّت طريقه وي ◈ د قُربانۍ په موضوع باندې د اِسلامي سکالرانو ليکلے شوې ډير معلوماتي کتابونه لوستلے شئ ◈ دا ايپلي کيشن د قُربانۍ کولو د پاره د ګائيډ په توګه استعمالولے شئ ◈ دې نه تاسو د قُربانۍ بنيادي تقاضې زده کولے شئ لکه د قُربانۍ نيت، دُعا، طريقه او ډير څۀ ◈ نور د مدني عالمانو معلوماتي ويډيوز او آډيو کلپس اوريدے او کتلے شئ ◈ او د قُربانۍ په باره کښې ويډيوز محفوظ کولے شئ- تاسو هم په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ! د دې نه فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د قُربانۍ څرمنې دعوتِ اِسلامي له ورکړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِله! دعوتِ اِسلامي د اِسلام او د مسلمانانو په خدمت کښې مصروف دے، په دې نيک کارونو کښې تاسو هم خپله حصه شامله کړئ! لوئي اختر رانزدې دے، عاشقانِ رسول به د قُربانۍ سعادت حاصلوي- خواست دے چې د خپلو خپلو څارو څرمنې دعوتِ اِسلامي له ورکړئ! ستاسو د ورکړے شوي رقم يا څرمن

پۀ ذريعه به پۀ ټوله دُنيا کښې دِيني، اِصلاحي، رُوحاني او د خير ښيګړې کارونه کولے شي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! دا به ستاسو د پاره صدقۀ جاريه وي- د دې سره سره پۀ خپله کوڅه او محله کښې، خپلو خپلوانو ته فون وغيره اوکړئ او هغوئي له هم د دې ترغيب ورکړئ! پۀ خپل کوشش باندې څرمنې هم راجمع کړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د دې به هم برکتونه در نصيب کيږي، **پۀ حديثِ پاک کښې دي:** چا چې د څۀ خير طرف ته رهنمائي اوکړه هغۀ ته به پۀ هغې باندې د عمل کوونکي برابر ثواب ميلاويږي- [1] او څرمنې راجمع کوونکو د پاره خو امیرِ اهلسنت دامَت بَرَکاتُهمُ العالِيه خصوصي دعاګانې هم کوي- لِهٰذا مونږ ته د دې نيک کار د پاره ډير ډير کوشش کول پکار دي-

**د څرمنو راجمع کولو په باره کښې يو څو اِحتياطونه وړاندې کولے شي:** ◈ د الله پاک د رضا د پاره څرمنې راټولوئ ◈ پۀ دغه وخت د نـمونځونو پابندي کوئ ◈ د ګنده جامو سره جومات ته د تللو نه ډډه کوئ، دې د پاره صفا سوتره جوړه د ځان سره ساتئ ◈ جومات، مدرسه وغيره پۀ وينه د ګنده کولو نه بچ ساتئ ◈ چا چې بلې يوې ادارې ته د څرمن ورکولو وعده کړې وي نو د هغوئي د وعده خلافۍ ذِهن مۀ جوړوئ ◈ پۀ چا غصه مۀ کوئ ◈ د څرمن ورکوونکي پۀ ښه طريقه مننه اوکړئ ◈ پۀ داسې ځائے کښې د څرمنو راجمع کولو سټال مۀ لګوئ چې د هغې نه خلقو ته پۀ تللو راتللو کښې تکليف کيږي-

عطارؔ سے محبوب کی سُنَّت کی لے خدمت | ڈنکا یہ ترے دین کا دُنیا میں بجادے [2]

---

[1] … ترمذی، ابواب العلم، باب ماجاء الدال...الخ، صفحه:628، حديث:2671-

[2] … وسائلِ بخشش، صفحه:112-

اللہ پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِيۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

◈ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د ذُوالحج شريف مياشت جاري ده، د دې مُبارکې مياشتې په وړومبو 10 ورځو کښې شيخِ طريقت، اميرِ اهلسنت مولانا محمد الياس عطار قادري دامت برکاتہم العاليه هره شپه تقريباً 9:30 بجې، په مدني چينل باندې لائيو مدني مذاکره فرمائي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې په دې مَدَني مذاکرو کښې پخپله هم شرکت کوي او نورو له دې هم دعوت وکوي ◈ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د فضول خبرو نه د بچ کيدو فضيلت (گفتگو کے آداب قسط:4)** اعلان کولے شي۔ دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د اللہ پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر کړي!

◈مکتبة المدينه يو اهم کتاب په نوم **گوشت کے وہ حصے جن کا کھانا منع ہے** چاپ کړے دے۔ په دې کتاب کښې تاسو د حلالو ځاروو هغه حصې کومې چې خوړل جائز نۀ دي د هغې تفصيلي مسئلې زده کولے شئ۔ دا کتاب د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه په **130 روپۍ** په بيعه واخلئ۔ پخپله يې هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ۔

◈ د شرعي تقاضو مطابق د قُربانۍ کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي د انتظام لاندې

کیدونکي اِجتماعي قُربانۍ کښې خپله حصه شامله کړئ! دې د پاره د خپل ځائے د دعوتِ اِسلامي د ذمه دارانو سره رابطه اوکړئ۔ **الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔ اٰمِیْنْ بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

◈ د قُربانۍ د تفصيلي احکامو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه کتاب **بهارِ شريعت** جلد: 3، حصه: 15 او د اميرِ اهلسُنَّت حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 50 صفحو رساله **ابلق گھوڑے سوار** واخلئ او دا ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلوو۔ تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِىْ فَقَدْ اَحَبَّنِىْ وَمَنْ اَحَبَّنِىْ كَانَ مَعِىَ فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي۔ (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## غوښه خوړل سُنَّت دي

**د خوږ مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **دوه فرامين مبارک:** **(1)** غوښه د دُنيا او د اخرت د

[1] ...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

خوراکونو سرداره ده- [1](2) غوښه پهٔ چاړه باندې مهٔ راپریکوئ (بلکې پهٔ غاښونو باندې) يې راشوکوئ او خورئ يې، دا ډېره خوندوره ده- [2]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** حلاله غوښه خوړل هم سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي، علمائے کرام فرمائي: غوښه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډېر خوښ خوراک وو- [3] ◈ د چیلۍ، چرګ، اوښ، سویې [یعنې د خرګوش] ، او د مهې [یعنې کب] غوښه خوړل د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه ثابت دي- [4] ◈ د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د چیلۍ د ځتې، [5] مَتِو (یعنې د مخکښینو ښپو)، [6] او د هغې د ورنانو [یعنې پتونانو] غوښه خوښه وه- [7]

**د غوښې فائدے او احتیاطونه:** ◈ علامه احمد بن محمد قَسطَلاني رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ لیکي: د چیلۍ د ټولو نه سپک خوراک د ځتې، د مخکښینو ښپو او اوګو وي، دا د معدې د پاره سپک وي او زر هضمیږي- [8] ◈ غوښه بدن ته پروټین، آئرن، وټامن ***B*** وغیره ورکوي او وټامن ***A*** او

---

[1] … معجم اوسط، جلد:7، صفحه:271۔

[2] … ابو داود، کتاب الاطعمة، باب فی اکل اللحم، صفحه:597، حدیث:3778۔

[3] … المواہب اللدنیه، المقصد الثالث، الفصل الثالث…الخ، النوع الاول…الخ، جلد:2، صفحه:128۔

[4] … المواہب اللدنیه، المقصد الثالث، الفصل الثالث…الخ، النوع الاول…الخ، جلد:2، صفحه:130۔

[5] … مسند امام احمد، مسند النساء، جلد:11، صفحه:168، حدیث:27790۔

[6] … ترمذی، کتب الاطعمة، باب ماجاء ای اللحم…الخ، صفحه:455، حدیث:1837۔

[7] … بخاری، کتاب احادیث الانبیا، باب قول الله تعالیٰ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا…الخ، صفحه:851، حدیث:3340۔

[8] … المواہب اللدنیه، المقصد الثالث، الفصل الثالث…الخ، النوع الاول…الخ، جلد:2، صفحه:129۔

***B*** د هډوکو، غاښونو، سترګو، دماغو او خرمن د پاره فائده مند دي- [1] ◈ غوښه وينه صفا کوي ◈ 70 قوتونه زياتوي ◈ او د دې د خوړلو سره عقل زياتيږي- [2] ◈ غوښه د اوريدو طاقت زياتوي- ◈ البته د ډيرې غوښې خوړلو نه ځان ساتل پکار دي چې ډيره غوښه خوړل د زړۀ د سخت والي سبب دے- [3] ◈ د دې زيات استعمال د کينسر، د زړۀ د مرضونو، شوګر، معدې او د ځيګر (***Liver***) د بيمارو سبب جوړيدے شي- [4] ◈ بالغو ګسانو ته د ورځې 70 ګرامه او پۀ هفته کښې 500 ګرامه يعني نيم کلو غوښه خوړل پکار دي- د هفتې درې يا د دې نه زيات ځل پۀ غوښه خوړونکو ګسانو کښې د مختلفو بيمارو امکانات زياتيږي- [5]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او وه يې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا | چاہیے گر تمہیں قافلے میں چلو

---

1 … ماہنامه فيضان مدينه، اگست 2019، صفحه:53-

2 … مدارج النبوة، باب ياز دہم در عبادات و طعام و شراب وغيره، جز:1، صفحه:458 ملتقطاً-

3 … مدارج النبوة، باب ياز دہم در عبادات و طعام و شراب وغيره، جز:1، صفحه:458 -

4 … ماہنامه فيضان مدينه، اگست 2019، صفحه:54-

5 … ماہنامه فيضان مدينه، اگست 2019، صفحه:54-

گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو[1]

اللہ پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِیۡن بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګانې

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعې [یعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِکْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوک هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمعې او زیارت پهٔ مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پهٔ پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پهٔ وخت کښې د مَدَني آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې مَدَني آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبر ته د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.

---

[1]... وسائل بخشش، صفحه:669۔

[1] راځئ چې مونږ هم په شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې مَدَني تاجدار صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم فرمائيلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي که ولاړ وي نو د کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وي نو د ودريدلو نه مخکښې به د هغهٔ ګُناهونه مُعاف کړے شي. [2] راځئ چې مونږ هم په شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي په هغهٔ به د رَحمت اويا دروازې برسيره کړے شي. [3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه ووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي. [4] راځئ چې په

---

[1]... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه:151، خلاصةً.

[2]... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه:65۔

3... قَوْلُ البَدِيْع، باب ثاني، صفحه:277۔

4... اَفْضَلُ الصلاة، صفحه:149۔

شريکه يـې ووائيو.

## ﴿5﴾ د خوږ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قُرب

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰى لَهٗ**

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، پهٔ دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوک اوچتې مرتبے والا دے! چې کله هغه لاړو نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: دے چې کله پهٔ ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسې يـې لوَلي. (1) راځئ چې مونږ يـې هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ**

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شريف ولوَلي، د هغهٔ د پاره زما شفاعت واجب شي. (2) راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر [1000] ورځو نيکئ:

**جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ**

د حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے د يو زر [1000] ورځو پورې نيکئ ليکي. (3) راځئ

---

1...قَوْلُ البَدِيع، بابِ اَوَّل، صفحه:125۔

2...الترغيب والترهيب، كِتَابُ الذِّكر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حديث:30۔

3...مَجْمَعُ الزَّوَائِد، كِتَابُ الْاَدْعِيَه، جلد:10، صفحه:254، حديث:17305۔

چې مونږ يـې هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر يـې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغهٔ چې شبِ قدر حاصل کړو-[1] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پهٔ شريکه ووائيو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د حِلم او کرم کوونکي **الله** پاک نه علاوه هيڅوک د عبادت لائق نشته، **الله** پاک دے، د اووهٔ اسمانونو او د عظمت والا عرش **رَبّ**)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...تاریخ ابنِ عساکر، 155/19، حدیث:4415